PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

# شهادت

اونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

### درس قرآن

او ای انسانه! ته نه ګوری چې الله پاک د ځمکې ټول خیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتی هم چې د الله په حکم په بحر کې چلېږي. او اسمان يې ټينګ نيولي چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه رانږيوزي يې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې يې ژوندي کړئ بيا مو مړه کوي او بيا مو بيرته راژوندي کوي. رښتيا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آيتونه)

### درس حدیث

ابو هریره رضی الله عنه روایت می کند که: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: به بهشت وارد نمی شوید تا مؤمن شوید و مؤمن شمرده نمی شوید، تا با همدیگر دوستی کنید، آیا راهنمائی نکنم شما را به آنچه که هرگاه آن را بجای آورید با هم دوستی می کنید؟ سلام را در میان خویش آشکار کنید. (ریاض الصالحین)

شهادت خلورم کال، ۴۸ مه ګڼه، پرله پسې ۱۹۹ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د کب ۳۰ مه د۱۴۳۴ هـ ق د جمادی الاول ۸ مه د۲۰۱۳ م د مارچ ۲۰ مه

د حزب اسلامي افغانستان مرستيال:

## حزب اسلامي له ټولو مخالفينو سره د سولې د خبرو اترو ملاتړ کوي او دا د هېواد په خير بولي

❖ له خليلي سره مو موقف يو دی اوصلاح الدين رباني په مشري د جمعيت اسلامي په ګډون له يوشمېر نور سياسي ګوندونو سره په خبرو اترو بوخت يو.

❖ سياسي ګوندونه او د هېواد مطرح شخصيتونه بايد تېرې ناخوالې تر خاورو لاندې کړي او د هېواد د ښې راتلونکې ازادو او رڼو ټاکنو لپاره سره يو خاى شي.

کابل، پژواک:
حزب اسلامي مرستيال وايي، چې د حکومت د سياسي اپوزيسيون د ګوندونو د همکاری شورا له وسلوالو مخالفينو سره د خبرو اترو پريکړه نه ده کړې. دغه خرګندونې د عبدالهادي ارغنديوال ...

پاتې ۴ مخ

زاخيلوال:

## فساد در گمرکات وجود دارد

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadwahdat...@yahoo.com

در سال گذشته دستاورد های خوبی در بخش ازدیاد عواید گمرکات وجود داشته اما هنوز هم فساد در این ادارات وجود دارد.

کابل، رسانه ها:
وزیر مالیه افغانستان با تایید موجودیت فساد اداری در گمرکات افغانستان از کارمندان جدید این وزارت خواست تا برای از میان برداشتن آن، تلاش نمایند.
به گفتهء مسوولان وزارت مالیه افغانستان، هر چند تلاش ها جهت محو فساد در گمرکات افغانستان جریان دارد اما به گفته آنان این تلاش ها نتیجه مثبت در پی نداشته است. ...

بقیه در صفحه ۴

## مدیریت در بحران

(تورن غلام سخی) - صفحه سوم

## وزرای خارجهء ده ها کشور اسلامی از غزنی دیدن می کنند

سازمان علمی و فرهنگی سازمان ملل متحد در سال ۲۰۰۷ میلادی فیصله نمود که ولایت غزنی را در سال ۲۰۱۳ میلادی به عنوان مرکز ثقافت اسلامی معرفی می کند

کابل، رسانه ها:
قرار است وزاری خارجهء ده ها کشور اسلامی در ماه اول سال جدید هجری شمسی از ولایت غزنی دیدار نمایند.
در پی افزایش انتقادات از بدتر شدن وضعیت امنیتی و عدم تطبیق پروژ های بازسازی در ولایت غزنی، وزرای خارجهء حدود چهل کشور اسلامی از این ولایت دیدار می کنند.

بقیه در صفحه ۴

## ډنمارک او هسپانيا له افغانستانه پوځيان باسي

کابل، رسنۍ:
ډنمارک غواړي چې د سږ کال په اګست کې خپل ټول محارب پوځيان له افغانستانه وباسي او پر ځای يې دې هېواد ته نور خواکونه ونه لېږي.
د کوپين هېګن چاپ پوليټيکن ورځپاڼه وايي چې د ډنمارک د پارلمان سرچينو ورته ويلي چې په اګست کې له افغانستانه د وتونکو ډنمارکي پوځيانو پر ځای به د پخوا په شان نور ځواکونه ونه لېږل شي.
له هغې موافقې سره سم چې د سږکال په جنوری کې وشوه ډنمارکي پوځيان بايد په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستانه وتلي وي. خو د افغان ځواکونو د روزونکو، يو شمېر خاصو پوځيانو او همداراز ټانکونو په شمول به ځيني کوچني ټولي پاتې شي...

پاتې ۴ مخ

## د ولسمشر کرزي وروستی څرګندونې د خندا وړ دي

کابل، رسنۍ:
د ناټو سرمنشي اندريس فوګ راسموسن په بروکسل کې ويل، دا په بشپړه توګه د خندا وړ ده، چې ولسمشر کرزی وايي امريکا له طالبانو سره جوړجاړی لري.
د رويترز خبري اژانس په وينا د افغان ولسمشر وروستيو څرګندونو له کابله د امريکا د دفاع د وزير په توګه د چک هيګل لومړني سفر ته ضربه رسولې ده.
د ناټو د سرمنشي په وينا د کابل او واشنګټن ترمنځ د تندو څرګندونو وروستی تبادلې دي اندېښمن کړی دی.
نوموړي ويلي، په عام محضر کې د ولسمشر کرزي دا خبره چې طالبان له ناټو، ايساف او امريکا سره جوړجاړی لري، ردوي.

بقيه در صفحه ۴

## د کانکور ځپلو شاګردانو ریښتینی دفاع څوا وکړه ؟!

(محمد خليل)

که وکيل پخپل نوم غور وکړي او په دې خبره ځان پوه کړي چې وکيل دخپل ولس په وړاندې څه دنده او مسؤوليت لري نو بيا به کله هم داسې بيغوري او غفلت نه کوي څومره چې د سږنې کانکور په ازموينه کې د شويو بربند و درغليو په اړه وکړه.
وکيلانو له خپل ولس نه په دې عهد او ژمنه رای ترلاسه کړې وي چې په ولسي جرګه کې به دهغوی په وکالت دهغوی د روا حقوقو دفاع کوي، ولس هم په همدې موخه هغوی خپل وکيلان غوره کړي وي چې په پارلمان کې په بشپړ ايمانداري او ديانت په تمامه معنی دهغوی صحيح نمايندګي وکړي، هېڅاته اجازه ورنکړي چې د ولس پر حقونو ګيډه واچوي، روا حقوق يې تر پښو لاندې کړي، بيت المال چور، او پخپلو ادارو کې ...

پاتې دريم مخ

## مقررات جدید درخصوص تعداد وسایط و عبور و مرور مقامات افغان وضع شد

مقام های دولتی از موتر های دارای شیشه های سیاه و نمبر پلیت های غیر معیاری نباید استفاده کنند

کابل، رسانه ها:
حکومت افغانستان مقررات تازهء را در خصوص تعداد وسایط مورد استفادهء مقام های دولتی به هنگام عبور و مرور در جاده ها وضع کرده است.
در جلسهء روز دوشنبه شورای وزیران فیصله شد که سر از آغاز سال نو شمسی وزیران و اعضای شورای ملی فقط می توانند از یک موتر تعقیبی استفاده کنند.
همچنان در این جلسه تصمیم گرفته شد که مقام های دولتی از موتر های دارای شیشه های سیاه و نمبر پلیت های غیر معیاری نیز نباید استفاده کنند.
مطابق به تصمیم کابینه، این مقام های دولتی باید از حمل سلاح های ثقیل با خود اجتناب ورزند و از مسدود کردن جاده ها نیز خود داری کنند.
ادارهء امور افغانستان تاکید می کند که

بقیه در صفحه ۴

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# افغانان دوستان غواړي، نه باداران!

یوازې دهغو هېوادو دوستي دوامداره او باثباته پاتې کېږي چې د متقابله احترام اصول پکې رعایت شي او د یو بل د جایزو اړتیاو او ضرورتونو ته پاملرنه وکړي، ددې برعکس کوم دوستي چې له دغو اصولو نه خالي وي هغه بیا د دوستۍ له تعریفه اوځي، او ورته د غلام او آقا نوم ورکول کېږي.

د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس د انساني ضرورت له مخې هر وخت له هر چاسره د اصولو او قانون په چوکاټ کې د دوستي لاس وراوږد کړې او ښه ګرمه دوستي یې ورسره پاللې ده، خو له هغې دوستۍ او له یارانې نه یې په کلکه ډډه کړې چې د متقابله احترام اصول پکې نه وي رعایت شوي.

د افغانستان د مسلمان ولس په پنځه زره کلن تاریخ کې د غلامي نوم چېرته نه تر سترګو کېږي، بلکې ټول عمر یې له غلامۍ پرته آزاد ژوند یې تېر کړې دی د وخت هر اشغالګر ځواک چې د افغانستان پر حریم تېري کړې او د افغانانو استقلال ته یې د نقصان رسولو ناوړه کوښښ کړې دی د افغانستان اتل او غیرتي ولس دهغوی په وړاندې د مضبوط غره په څېر ودریدلي او بالاخر له رسوا ماتې وروسته په ټیټو سترګو له افغانستان نه په وتلو اړ شوي دي. د افغانستان مؤمن او پر خپل هېواد او استقلال مین ولس نن هم د پخوا په څېر پخپل استقلال او اسلامي کلتور ټینګ ولاړ دي، په هېڅ قیمت دېته نه حاضرېږي چې له خپل اسلامي او ملي دریځ نه یو انچ وروسته شي. خو ددې ترڅنګ د نړۍ د ګردو هېوادو پر ولسونو دا غږ هم کوي چې هر څوک له افغانستان سره دوستانه اړیکې ټینګول غواړي افغانان یې د سر په سترګو مني خو دا اصل دی خامخا په پام کې ونیسي چې افغانان د دوستي تر عنوان لاندې د هېچا د باداري منلو او دهغه د ناروا فشارونو په وړاندې غاړې ایښودلو ته نه چمتو کېږي.

ښه به دا وي چې کوم هېوادونه له افغانستان سره د دوستي ټینګولو اراده لري هغوی دی د افغانانو پر سرنوشت د لوبې کولو او یا هم دهغوی د غربت او افلاس نه د ناروا ګټو پورته کولو احمقانه فکر له خپلو مغزو راوباسي، ځکه چې د افغانستان وګړي د خپل هغه میراثي فطرت له مخې چې له خپلو اسلافونه ورته پاتې دی دچا هېڅ ډول غلامي او برلاسي منلو ته نه چمتو کېږي، د نیکۍ ځواب په نیکۍ او د بدي ځواب په بدي ورکوي.

د افغانستان د مسلمان ولس غربت او فقر پخپل ځای مګر پخپل غیرت او غرور کله هم سودا بازي نه ده کړې او په بشري تاریخ کې ددې خبرې څرګند امتحان ورکړی چې ددوی په وینه کې د غلامۍ ماده له سره نشته، هر چا چې په څومره چلونو او نیرنګونو سره د افغانانو د غلامولو کوښښ کړې له ناکامي پرته یې بل څه نه دي ترلاسه کړي، فلهذا د امریکا په شمول له نورو هېوادو څخه د افغانانو غوښتنه داده چې خپلې دوستانه اړیکې د اصولو او قوانینو تابع کړي، د افغانستان ملي حاکمیت، استقلال او زمکنی بشپړتیا ته دې د خپلو هېوادونو د ملي حاکمیت او استقلال په څېر اهمیت ورکړي. تر څو په اصولو ولاړ د دوستۍ داسې بنیاد کېښودل شي چې د ټولو هېوادو روا ګټې خوندي او د نړۍ د امن د تقویې باعث وګرځي.

# دولت خالي کوپړی خو (میک اپ) کړی ستایل غواړي

عزت الله ذکي

په افغانستان کې د نورو سیاسي حرکتونو ترڅنګ، پېچلې توده تبلیغاتي جګړه هم روانه ده. پاکستان، ایران، القاعده، وسله وال مخالفی‌ن او ځیني بهرني هېوادونه، ټول په افغانستان کې د خپلو موخو لپاره رسنۍ لري او د همدې لارې د عامه اذهانو د مغشوشولو وژونکې او زهرجن تبلیغات کوي.

په افغانستان کې تر وسلوالي جګړې اوس تبلیغاتي جګړه څو قدمه وړاندې ده. ایران او پاکستان هېوادونه په افغانستان کې د تبلیغاتي جګړې اساسي او اصلي ستې تشکیلوي، ګڼې رِغیزي، تصویري، چاپي او برېښنايي رسنۍ په افغانستان کې د پردیو هېوادونو او یا هم ځینو لاس وهونکو کړیو او ډلو ټپلو ګټې تمثیلوي.

وسله وال مخالفین هم خپل رسنیز فعالیتونه په افغانستان کې په ښه پراخ مټ ترسره کوي. په تېرو یوولسو کلونو کې یوازې څومیاشتې وړاندې، د حکومت دې ته پام شو، چې د تورخم باردړ له لارې هر سهار په سلګونو چاپي رسنۍ افغانستان ته راځي او دلته نو بیا په شعوري او غېر شعوري ډول په یو عجیبه تکتیک توزیع کېږي، د چا کور ته د نانوايي لخوا په ډوډۍ کې ځي، او د چا کور ته بیا د کیک، غوښو، کباب، سبزیجاتو، ښیښه پاکولو...

او داسې نورو پلمو ځي او څوک یې بیا د جالبو خبرونو لپاره رانیسي، او بیایې نو سیاسي برخه هم لولي او تر اغېز لاندې یې راځي، په هر ډول چې وي سهار د پاکستان اخبار په مستقیم او یا غېر مستقیم ډول، د هغه ولایتونو د وګړو تر کورونو، هټیو او هستوګن ځایونو رسېږي چې د ایران او پاکستان سره ګډه پوله لري او یا هم نا امنه دي. د افغانستان دا دوه ګاونډي هېوادونه، نه یوازې بهرنی خبري تولید دلته رالېږي، بلکې کورنی تولید او رسنیز فعالیت هم لري. د زیاتو بې ادرسه رسنیو شتون او ګونګ فعالیت، ولسي وګړي پر رسنیو بې باوره کړي.

څو ورځې وړاندې رسنیو خبر ورکړ، چې په سوېلي ولایت هلمند کې وسله وال طالبان پر خلکو خپل د جګړې تبلیغاتي سیډیګانې وېشي، البته دا کومه نوې خبره نه ده، د وسله والو طالبانو تبلیغاتي سیډیاني اوس د افغانستان په زیاتره ولایتونو کې د یو زیات شمېر ولسي وګړو پورې رسېدلې، زیاتره وګړي په خپل موبایل کې د طالبانو ترانې او یا هم د جګړې ویډوګانې لري. په تېرو یوولسو کلونوکې وسله والو طالبانو په تبلیغاتي ډګر کې دافغانستان دولت ته ماتې ورکړې.

تېره اوونۍ د کندهار ولایت د امنیت شورا په اوونیزه غونډه کې چې د والي توریالي ویسا په مشرۍ جوړه شوې وه، هم د مخالفینو سره د ښې مبارزې په موخه د تبلیغاتي جګړې پر اړتیا خبرې وشوې. کندهار والي وویل، وسله والو مخالفینو په ټولو برخو کې ماتې خوړلې، خو یوازې د تبلیغاتي جګړې له لارې د خلکو د وېرولو او خپل شتون ښودلو په لټه کې دي. نوموړي دا هم وویل، چې د مخالفینو په وړاندې باید تبلیغاتي جګړه پیاوړې شي. په افغانستان کې اوس تر بل هر وخت، تبلیغاتي او مطبوعاتي جګړه روانه ده، وسله وال طالبان او القاعده هم پراخ رسنیز فعالیت لري، دوی خبرې ویبسایټونه، مجلې، اخبارونه، تبلیغاتي تصویري ویډیوګانې، فلمونه، شفاهي او تحریري بېلابېل نشرات لري.

په همدې ترتیب، دا خلي ګوندي سیاستمداران هم خپل سلیقوي رسنۍ لري. ګاونډي هېوادونه هم ځان ته رسنۍ لري او تبلیغات کوي. دېته په کتو د حکومتي رسنیو فعالیت پر نشت حساب دی. د دولت رسنۍ به څوک له درانه خوبه ویښوي؟ وسله وال طالبان څلورویشت ساعته په انټرنیټي ویبپاڼو کې ورځنۍ پېښي منعکسوي، سیاسي او تحلیلي مطالب خپروي، خو حکومتي رسنۍ بیا څلورویشت ساعته وروسته، د یوې پېښي ایله یا پخلی کوي او یایې هم ردوي او بس. په سمیه ییزو دولتي ټلوېزیونونو کې له خبرونو پرته بل څه نشته، ځکه اصلاً دا وړتیا نشته چې پر یوه موضوع د ملي ټلوېزیون له څپو د ورځي دوې درې سیاسي تبصرې پر روانو حالاتو او موجوده شرایطو خپرې شي.

تبصرې کلې غواړي، خو دلته بیا زیاتره وګړي د معاملو په اساس راغلي نو ځکه دوړتیا تمه هم ترې نه شي کېدای. هره ورځ ناخوالي وینو، خو پر ناخوالو د حقایقو لیکلو جوګه نه یو، هسې دولتي څوکۍ مو اشغال کړي دي.

دولت دې په تبلیغاتي ډګر کې ځان له طالبانو سره نه مقایسه کوي، هغوی په دې برخه کې تر دولت زیات فعالیت لري، د هغوی یو ویاند، خو ټولو رسنیو ته په یو وخت رسیدګي کوي، زموږ په زرګونو دولتي ویاندویان چې په زرګونو ډالره معاش اخلي او هره اداره مو ویاند او لیکوال لري، خو په اوونیو ښاغلي نه پیدا کېږي، خپل مسوولیت نه پېژني او ان د ژورنالېزم نړیوال نورمونه ترې ماتېږي، دوی دا د خپل ځان مسوولیت نه ګڼي چې د بهرنیو زهرجنو تبلیغاتو په وړاندې ودرېږي او تر اداري یو متر دباندې (بهر) هم پر ملي منافعو ولاړې خبري وکړي.

زیاتره دولتي ویاندویان، خپل وخت په (میک آپ) او ځان جوړولو تېروي. ښه ستایل، خالي کوپړۍ، خلک د دولت په کار دي، په هر ولایت کې ورته ستونزه ده، دوالي پیدا کول تر رئیس جمهور ګران کار دی او د خبریال او مرستیال پیداکول یې تر وزیر، بیا وروسته نو دا خبره مطرح کېږي چې د جګړې تبلیغاتي اړخ باید پیاوړی شي.

هغه کسان چې ځان په دې برخه کې فعال بولي، لومړی دې هغوی حاضر شي او دا قرباني دې ورکړي، وزیر خو څه کوې یو والي او ښاروال څوک نه سي پیدا کولای چې د ملي منافعو دفاع وکړي او د یو خبریال سره د ستونزو پر هوارۍ خبرې وکړي فقط، هرڅه تر کنفرانسونو او غونډو پورې محدود دي. دا اوس سره د دې چې هر ولایت ځان ته پوره مطبوعاتي بودیجه لري، کارکوونکې لري او د ټولو اسانتیاوو درلودونکې دي، خو پیدا کول او مطبوعاتوته حاضرول یې د مرغۍ پی (شیدې) دي هر یو یې انځرګل دی، نه یې والي پیدا کېږي، نه یې ښاغلی مرستیال او نه یې جناب ویاند، په داسې شرایطو کې نو بیا په تبلیغاتي ډګر کې بریا نا شونې ده.

تورن غلام سخی

# مدیریت در بحران



در این شکی نیست که مدیریت سالم و تدابیر بموقع و حکیمانه طوفان های بس عظیم سیاسی را در کشورها که هیچ توقع آرامش در آنها در طول تاریخ نمیرود سد نموده، با دقت، خردمندی، تحلیل اوضاع و احوال جامعه، مدیریت سالم توانسته که عوامل بحران را از ریشه خشک نماید.

فرصت هائیکه در شکل گیری بحرانها برای یک مدیر دست میدهد، مقطع های طلایی بشمار میرود، که باید از آن استفاده اعظمی نمود. اصل شایستگی، امتیاز و برجستگی یک مدیر در مدیریت بحران، تحلیل فرصت ها است. زمامداران و قهرمانانیکه نام شان بخط زرین در تاریخ بشر حک گردیده، توانسته اند که وحدت اداری، سیاسی و استقلال کشور شان را بدست آرند. در اثنای طوفان بحرانها از فرصت های که دست داده استفاده بزرگ نموده اند. توانایی و قدرت فهم رهبری زمامداران و رهبران کشورها در آن است که بتوانند با استفاده از نیروهای معنوی و مادی کشور شان در مواقع تشتت، پراگندگی و آفات خورد کنندهٔ اجتماعی عاقلانه بیندیشند و بحران هائیکه از اثر تحولات اجتماعی و سیاسی بمیان آمده خاتمه دهند، مدیر موفق کسی است که خود را مستقل و دارای اراده قوی دانسته و آینده را در قلمرو آزادی و سرفرازی ملت خود بداند و بحران های ناشی از جنگ های تحمیلی و فرسایشی را که شیرازه ملت ها را از هم مدرد و همه توانایی کشورها را بخاک یکسان می کنند، حکیمانه بیندیشد، و با درک واقعیت ها و تحلیل از وضع منطقه و جهان بطرف ختم بحران گام های اندیشمندانه بردارد.

ملتهای محکوم وقتی به آزادی میرسند که مدیریت قوی از خود در متن بحرانها نشان دهند و مدیریت وقتی قوی میباشد که رهبر آزاد با شعار وحدت و یکپارچگی ملت بدون تفکر تبعیض و برتری قومی به قوم دیگر، زبانی به زبان دیگر، و با درنظر داشت اصل شایستگی و ظرفیتهای کاری میتواند، مردم و کشور خود را از وضع ناهنجار و بحرانی نجات دهد. اسلام عزیز که دین جهانی و آئین فطری بشر است و بشریت امروزی و فردا بدون آزادی در سایه این دین بزرگ سعادت دایمی را نخواهد دید.

برای زعما و زمامداران توصیه میکند که در ساختار این دین بزرگ فلسفه قوم گرایی، ملت گرایی و برتری نژادی جایی ندارد آنچه از نظر این دین الهی پذیرفته شده، برتری انسانها در اخلاق، علم، تقوی و تطبیق قوانین آن میباشد و همه شرایط زندگی سعادتمند را چه در حال بحران و چه در حال غیر بحران برای بنده گان خدا تشریح نموده است، مدیریت ها وقتی سالم است که مدیران خود را مسؤول در برابر خدا و مردم (بنده گان خدا) بدانند و راه حل بحرانهای عظیم را که بشریت از حل آن عاجز آمده اند در تمسک به آئین جاویدان اسلام که برنامه عملی براه سعادت انسانها است بدانند. اینجاست ما گفته میتوانیم مدیر موفق با درک این واقعیت ها میتواند بحرانهای طوفان زا را رهبری و از فرصت ها که دست میدهد استفاده و کشورش را آرام، آباد و مستقل بسازد.

# د کانکور ځپلو شاګردانو ریښتینی دفاع چا وکړه؟!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... د غلا، رشوت او خیانت بازار ګرم کړي:
که په پارلمان کې ناست وکیلان له واقعیت نه سترګې پټې نه کړي او خپل ایماني او ملي مسؤولیت ته متوجه شي نو دهغوی ضمیر به خامخا ورته دا حقیقت ور په ګوته کړي چې هغوی اصلاً د داسې ولس منتخب وکیلان دي چې د خپلو حقوقو د ساتنې او دفاع لپاره یې پارلمان ته استولي دي، که چېرته د ولس د حقوقو د محافظت او دفاع دنده ددوی مسؤولیت نه وای نو بیا به کله هم د وکیل نوم ورباندې نه و ایښودل شوې او نه به هم د ولس په مستقیمو رایو پارلمان ته راتلل، دا چې د وکیلانو نوم ورباندې ایښودل شوې او پخپله هم ځانو ته د وکیل نسبت کوي دا نو په دې معنی دلالت کوي چې هغه د خپل ولس د وکالت دنده په غاړه لري، هر وخت او هر چېرته باید د خپل ولس د حقه حقوقو د تأمین او ساتنې لپاره چمتو او تیارسی ولاړ وي، په دې کار کې دهغوی لږ غوندې غفلت او سستي هم لویه ګناه او نه تلافي کېدونکي غدر ګڼل کېږي خو له بده مرغه ډېری وکیلان د خپل وکالت دهغه مسؤولیت له ادا کولو نه قاصر ښکاري چې له خپل ولس نه د رایو اخیستلو په وخت پخپله خوله ژمنه کړې وه او په دې عهد او وعده یې دهغوی رای ترلاسه کړی وی چې په پارلمان کې به دهغوی د حقوقو د ترلاسه کولو لپاره یوه پوټې هم ناغیړي نه کوي، خو ډېر افسوس یو ځل بیا ډیری وکیلانو خپل ولسي اعتماد په هغې ورځ له لاسه ورکړ چې د کانکور په ازموینه کې د ښکاره او بربنډه درغلي په خلاف چوپه خوله پاتې شول، ددې پرځای چې د ولس له بچیانو سره د شوي ظلم او درغلي پوره پوښتنه وکړي او پوره حساب و کتاب ورسره وکړي د پارلمان په انګړ کې خوبونه وکړل، خو هغه وکیلان چې د خپل وکالت په اهمیت پوهېدل او خپل ځانونه د ولس د حقوقو د دفاع او تأمین مسؤول ګڼل د پارلمان په تالار کې خپل هغه مسؤولیت ادا کړ چې ولس د خپلو مستقیمو رایو په ورکولو سره دهغوی په غاړه اچولې و، د بیلګې په توګه له ننګرهار نه منتخبه شوی وکیله آغلی آرین یون، د لغمان ولایت د خلکو وکیل ښاغلي انجنیر قرار، د کابل استازی عبیدالله کلیمزی، ګل پادشا مجیدی، سائره شریف، نسیمه نیازی، محمد نعیم لالی حمیدزی او د مشرانو جرګې غړو د کونړ استازی ځوان سناتور رفیع الله حیدري، د بغلان سناتور نظرمحمد او ... د افغانستان د ځوانانو د حقونو دفاع په ډېره جدي او مؤثره توګه وکړه، په ځانګړی ډول آغلی یون او انجنیر قرار چې کوم مستدل او قناعت ور پوښتنې له وزیرصاحب نه وکړې، هغه په واقعي معنی د ځوانانو او دهغوی د کورنیو د زړونو ترجماني وه.

ځکه خو هر مظلوم ځوان او د حق پلویان دهغوی جرئت او عظمت ته سلام کوي او د خپل ملاتړ ډاډ ورته ورکوي. که چېرته د ولس د حقونو د مدافع وکیلانو تر نامه لاندې راغلیو ټولو وکیلانو د پورته یادو وکیلانو په څېر د ځوانانو د روا حقوقو د ترلاسه کولو لپاره له جدیت نه کار اخیستی وای او ټولو یو دریځ خپل کړی وای نو له څه شک پرته به د ځوانانو مشکل رفع او د زړه تشفي یې به شوې وه، نه به هره ورځ د لاریونونو او مظاهرو ضرورت پاتې و او نه به هم په رسنیو کې ګرم او تاوده بحثونه کېدل.

په پارلمان کې ناست وکیلان هغه یواځینی مؤثر ځواک دی چې د هېواد په غټو غټو او کلیدي ادارو کې د درغلي او فساد د مهارولو قاعذه په لاس کې لري، ځکه چې د وزیرانو ټاکل او دهغوی سلب اعتماد کول د وکیلانو په لوی مسؤولیتونو کې شامل دی. لکه څنګه چې د هر وزیر ټاکل د ولسي جرګې د وکیلانو دنده ده همداسې دهغوی د احتساب دنده هم د وکیلانو پر غاړه ده چې کله هم څوک د قانون له دائری نه د باندې پښه کېږدي جلب یې فوراً ونیسي او د قانون پنجې ته یې وسپاري.

که وکیل صاحبان د وکالت خپل درونـد مسؤولیت ته متوجه شي او د وکالت پر معنی او مفهوم ځانونه پوه کړي نو خامخا به دهغوی ضمیر دې واقعیت منلو ته اړ کړي چې په وزارتونو کې څومره درغلي او اداري فساد کېږي په هغه کې وکیلان له هغوی نه زیات تر تنقید لاندې راځي او دا ددوی مسؤولیت دی چې دهغوی د کارونو څارنه وکړي، او د خپل ولس نظریاتو ته غوږ کېږدي چې له کوم وزارت نه شکایت لري او د کوم وزیر له کارونو څخه مطمئن دي.

دا څومره د تأسف خبره ده چې وکیلان زیاتره ددې پرځای چې د خپل ولس د حقونو ددفاع لاره پرمخ بوځي د خپلو شخصي ګټو پسې ورک دي. مګر بېچاره ولس د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره په سړکونو کې لاریونونه کوي او د وزارت او پارلمان په وړاندې د خپلو روا حقوقو د ترلاسه کولو لپاره چیغې او فریادونه وهي. ولس د خپل قانوني حق له مخې له خپلو وکیلانو څخه په بشپړ زړورتوب غوښتنه کوي چې خدای لپاره زموږ له وکالت نه سترګې مه پټوئ په پارلمان کې ستاسی ایماني او ملي مسؤولیت دادی چې د خپلو موکلینو د حقوقو صحیح ساتنه او دفاع یې وکړئ. زموږ د هغو اولادونو چې د کانکور په ازموینه کې ورسره ټګي او درغلي شوي او زموږ زړونه یې ټپي کړي دي دهغوی د حقوقو د اعادې او درغلي کوونکو ته د سزا ورکولو لپاره ملاوتړئ، آخر لدېنه بل لوی خیانت او ظلم به نور څه وي چې زموږ د قابلو او مستعدو ځوانانو استعدادونه د ډالرو په بدل کې خرڅ او دهغوی د دولسو کلو په خواري او زحمت ډېری خاورې اړول شوي دي. ولس خپلو وکیلانو ته خبرداری ورکوي چې که چېرته په ملت کې د عزت او احترام مقام له لاسه ورکول نه غواړي نو د فعالو او با کرکټرو وکیلانو په څېر تاسی هم د ولس او دهغوی د بچیانو د روا حقوقو د بیا اعادې، او راتلونکی لپاره د دا ډول د ناوړه پیښو د بیا نه تکرارېدو په موخه د سکوت مهر مات او د خپل هغه ولس د حقوقو د تأمین لپاره ګرندې یون وکړئ چې تاسی یې د خپلو وکیلانو په توګه پارلمان ته استولي یئ.

# افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

## حامد کرزی د یوه خپلواک ولسمشر په توګه ځان معرفي کوي

واشنګټن پوست ورځپاڼې په خپله وروستۍ ګڼه کې د افغانستان د ملي حاکمیت په اړه، چې ولسمشر کرزی یې د خوندي کولو هیله لري، مقاله خپره کړې ده.

ورځپاڼه لیکي: جمهور رییس کرزي په وروستیو کې پر امریکایي ځواکونو د وسله والو طالبانو سره د همکارۍ، د یو شمېر افغان محصلینو د اختطاف او د ملکي خلکو د شکنجې تور ولګاوه.

ورځپاڼه لیکي، ولسمشر کرزي همدا راز پر امریکایي ځواکونو تور ولګاوه، چې تل یې د افغانستان د کورنیو تاسیساتو د کمزوري کولو هڅه کړې او په دې ډول یې د افغانستان د ملي حاکمیت پر ضد کار کړی.

د واشنګټن پوست په وینا، جمهور رییس حامد کرزی د افغانستان د سیاست په ډګر داسې څېره ګڼل کیږي، چې ساری نه لري.

ولسمشر کرزي ویلي، چې د خدمت دوره یې د ۲۰۱۴ میلادي کال تر پایه بشپړیږي او د افغانستان د اساسي قانون پر اساس به له دندې لرې شي.

یو شمېر افغان چارواکو ورځپاڼې ته ویلي، چې ولسمشر کرزي د امریکا پر ضد له دې څرګندې مبارزې څخه بل هدف لري.

د واشنګټن پوست په حواله، ولسمشر غواړي، چې په ټولنه کې د ځان دا تصویر له منځه یوسي، چې ګویا د نورو خلکو له خوا کنټرول شوی رهبر دی او ځان د یوه خپلواک او خود مختار جمهور رییس په توګه معرفي کړي.

د یو شمېر افغان چارواکو په وینا، جمهور رییس کرزی باور لري، چې د ملي حاکمیت د تامین په صورت کې به خلک د ده او د حکومت ملاتړ وکړي.

دا مساله له امریکا سره د ګډ شراکت لپاره مهمه خبره ده او تر ۲۰۱۴ کال وروسته په دې هېواد کې د امریکا د ځواکونو د حضور دوام ته لاره پرانیستلای شي.

داسې یوې موافقې ته له رسیدو پرته، سیاسي ثبات ته خنډ پیښیدلای شي او امنیتي وضعیت خرابیلادی شي.

داسې وضعیت به بېلابېلو قومي او سیاسي ډلو ته، چې ان یو شمېر یې ولسمشر کرزی خپل دښمن ګڼي او د له منځه تللو هیله یې لري، لاره هواره کړي.

واشنګټن پوست ورځپاڼه د جمهور رییس حامد کرزي د ویاند ایمل فیضي په حواله لیکي: موږ د خلکو ملاتړ ته اړتیا لرو.

ایمیل فیضي د دې په ځواب کې، چې د ولسمشر کرزي د وروستیو خبرو شاته مقصد څه دی، وویل: موږ له امریکا سره د دوه اړخیزې امنیتي موافقې په خاطر هم د خلکو ملاتړ غواړو.

خو ورځپاڼه لیکي،

ان که دا د ولسمشر کرزي حقیقي غوښتنه هم وي، د هغه له خبرو څخه سړی داسې نتیجه ګیري نه شي کولای.

ټایمز ورځپاڼه هم په خپله وروستۍ ګڼه کې د افغانستان په اړه یوه مقاله لري. ورځپاڼه لیکي، د پخواني شوروي ځواکونو یو زوړ ټانک په کابل کې د ناټو د ځواکونو یوې قرارګاه ته نږدې تر ځمکه لاندې وموندل شو.

لیکي: که چیرې ناټو د دې پخوانۍ خبرې ثبوت غواړي، چې افغانستان اطور یو هدیره ده، نو سند یې د خپلې قرارګاه تر څنګ دی.

ورځپاڼه زیاتوي، چې د جنورۍ په میاشت کې یوه تن د ناټو یوې قرارګاه ته نږدې د ځمکې د کیندلو پر مهال، درې متره تر ځمکې لاندې یو زوړ پوځي ټانک پیدا کړ.

وروسته څرګنده شوه، چې دا (تي ۶۲) ټانک لس هاوو کلونه مخکې د پخواني شوروي له ځواکونو څخه په افغانستان کې پاتې شوی وو.

ټایمز زیاتوي، چې په کابل کې د نویمې لسیزې په جریان کې د جنګ سالارانو ترمنځ خونړۍ جګړې پیل شوې او هغوي د پخواني شوروي څخه د پاتې شویو ټانکونو په مرسته دا ښار په ویرانه بدل کړ.

په دې سیمه کې د یوه ساختماني شرکت مشر جان پیرسن ټایمز ته ویلي، چې ښایي جسدونه هم وموندل شي خو تر اوسه داسې نښې نه دي پیدا شوې.

د ښاغلي پیرسن په وینا، ناټو دا وړاندیز رد کړ، چې دا پوځي ټانک باید د شوروي د اشغال د نښې یا یادګار په توګه د ښار په یوه سیمه کې کیښودل شي.

ده ویلي، چې اوس له دې ټانک څخه د سربازانو په تمرینونو کې کار اخیستل کیږ او عسکر انداخت ورباندې زده کوي.

### حزب اسلامي له ټولو مخالفینو...

په مشرۍ د حزب اسلامي د ګوند د اجرائیه شورا غړي انجنیر محمد خان د کب په ۲۹مه، پژواک خبري اژانس سره په ځانګړې مرکه کې وکړې.

هغه زیاته کړه، چې ځینو رسنیو خبر ورکړی و، چې د ګوندونو د همکارۍ شورا او سیاسي ایتلافونو (دحکومت اپوزیسیون) له وسلوالو طالبانو او حزب اسلامي سره د سولې په اړه خبرې پیل کړې دي.

د سرچینې په خبره، په دې خبرو کې د نورو افغان سیاسي څېرو ترڅنګ ډاکټر عبدالله عبدالله او علي احمد جلالي هم برخه لري.

خو انجنیر محمد خان وایي، چې د ګوندونو د همکارۍ شورا ددولت له وسلوالو مخالفینو سره د خبرو اترو پیلولو کومه پرېکړه نه ده کړې او که چا دا کار کړی وي، نو دا به یې په شخصي توګه یا د خپل ګوند په استازیتوب کړی وي.

نوموړي زیاته کړه، چې ګوند یې له ټولو وسلوالو مخالفینو سره د سولې د خبرو اترو ملاتړ کوي او دا د هېواد په خیر بولي.

هغه زیاته کړه: "دا چې د سیاسي ګوندونو لخوا دا کار پیل شوی، موږ له دې جریان څخه نه یو خبر او نه هم شورا دا پرېکړه کړې ده."

د سیاسي ایتلافونو او ګوندونو د همکارۍ شورا، چې خپل فعالیت یې د روان کال په تلې میاشت کې پیل کړ، د هېواد ۲۰ ګوندونه (د حکومت اپوزیسون) یې غړیتوب لري، چې تر ټولو مهم یې ملي ایتلاف، ملي جبهه، ملي جنبش، حزب اسلامي، جمعیت اسلامي، محاذ ملي، د افغانستان خلکو اسلامي وحدت ګوند، د حق او عدالت ګوند، اسلامي وحدت ګوند او افغان ملت ګوندونه شامل دي.

هغه زیاته کړه چې حزب اسلامي د راتلونکو ولسمشریزو ټولټاکنو په اړه د حزب وحدت له مشر کریم خلیلي سره تفاهم ته رسېدلي او د رباني په مشرۍ د جمعیت په ګډون یو شمېر نورو سیاسي ګوندونو سره په خبرو اترو بوخت دي.

نوموړي وویل، چې د ولسمشر دویم مرستیال او د حزب وحدت اسلامي له مشر کریم خلیلي سره یې په دې هوکړه کړې او توافق ته رسېدلي، چې د راتلونکو ولسمشریزو ټولټاکنو په اړه به یو موقف او دریځ ولري.

د یادونې ده، چې څو ورځې مخکې د دواړو لوریو ترمنځ غونډه شوې او دحزب وحدت د پخواني مشر عبدالعلي مزاري په تلین غونډه کې هم د حزب اسلامي لوړپوړو مشرانو ګډون کړی و.

انجنیر محمد خان د یوې پوښتنې په ځواب کې په ډاګه کړه، چې د صلاح الدین رباني په مشرۍ د جمعیت اسلامي په ګډون له یو شمېر نورو سیاسي ګوندونو سره یې هم د راتلونکو ولسمشریزو ټولټاکنو لپاره دیوه کاندید او ګډ دریځ په اړه خبرې پیل کړې دي.

خو هغه زیاته کړه، چې تر اوسه په دې اړه کومې پرېکړې ته نه دي رسېدلي.

ټاکل شوې ده، چې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو راتلونکې ټولټاکنې د ۱۳۹۳ لمریز کال د وري په ۱۶مه، ترسره شي.

د حزب اسلامي دغه مشر وویل، چې که په دغو ټولټاکنو کې مطرح سیاسي ګوندونه او ملي شخصیتونه سره راټول نه شي، نو دا به درغلیو او تقلب ته لاره هواره کړي.

د هغه په وینا، سیاسي ګوندونه او د هېواد مطرح شخصیتونه باید تېرې ناخوالې تر خاورو لاندې کړي او د هېواد د ښې راتلونکې، ازادو او رڼو ټاکنو لپاره سره یو ځای شي.

ددې پوښتنې په ځواب کې، چې حزب اسلامي به خپل کاندید دروي او که ددرېیم کاندید لپاره له نورو ګوندونو سره خبرې کوي، انجنیر محمدخان وویل، چې تر اوسه د کاندید په اړه وروستۍ پرېکړه نه ده شوې.

ده زیاته کړه: "زموږ دریځ دادی، چې د راتلونکو ټاکنو لپاره باید ملي اجماع وشي او ټول سیاسي ګوندونه باید ددې کار لپاره سره یوې نتېجې ته ورسیږي."

د انجنیر محمد خان په وینا، که چېرې ملي اجماع ونه شي او نورو ګوندونو سره کومې پرېکړې ته ونه رسیږي، نو حزب اسلامي به بیا خپل ځانګړی کاندید دروي.

### فساد در گمرکات وجود...

حضرت عمر زاخیلوال وزیر مالیه افغانستان که به روز سه شنبه در نشستی در کابل صحبت می کرد گفت که در سال گذشته دستاورد های خوبی در بخش ازدیاد عواید گمرکات وجود داشته اما به گفته وی هنوز هم فساد در این ادارات وجود دارد.

آقای زاخیلوال در مورد چنین گفت:

"در گمرکات ما فساد است و این را باید واضح بگوئید، وظیفه کارمندان جدید از بین بردن فساد است.

هر چند در بخش عواید دستاورد های خوب داریم اما فساد وجود دارد باید فساد از بین برده شود.

باید این اداره نیک نام ساخته شود و من در این زمینه صد درصد همکاری خواهم کرد."

این نشست به هدف معرفی افراد یکه به تازه گی در سی و چهار پست وزارت مالیه افغانستان تقرر یافته اند بر گزار گردیده بود.

وزیر مالیه افغانستان افزود که هدف از ایجاد این تغییرات مبارزه با فساد در این ادارات، ازدیاد و جمع آوری عواید می باشد.

به اساس معلومات وزارت مالیه، روسای ده اداره گمرک در کشور به تازه گی تقرر یافته اند.

خانم آمنه احمدی رییس جدید گمرک کابل که به روز سه شنبه به این پست تعین گردید نیز بر مبارزه جدی علیه فساد اداری در گمرکات افغانستان تاکید کرد.

خانم احمدی از تجار و مردم نیز خواست تا در امر مبارزه با فساد با آنان همکاری نمایند.

وی در مورد چنین گفت: "تا زمانی که سیستم ها معیاری نشوند فساد از بین نخواهد رفت، ما تلاش خواهیم کرد تا گمرک کابل را ستندرد و همسان با معیار های جهان بسازیم.

به این صورت امکان دارد تا فساد کاهش یابد، می خواهم سهولت های زیاد را برای مردم ایجاد نمایم.

می خواهیم پروسیجر های مغلق را ساده ساخته و برای مردم و تجار سهولت ایجاد نماییم بدین گونه امکان دارد که فساد البته نه به طور کلی بلکه تا یک اندازه کاهش خواهد یافت."

موجودیت فساد اداری در افغانستان مشکلی است که نه تنها افغان ها بلکه کشور های غربی هم از آن انتقاد کرده اند.

حکومت افغانستان همواره از تلاش ها به هدف از میان برداشتن این پدیده سخن گفته اند اما گفته می شود این مشکل هنوز هم به پیمانه وسیع وجود دارد.

### وزرای خارجهء ده ها کشور ...

مقام های افغان می گویند که هدف از این دیدار، بازدید از برنامه های بازسازی این ولایت می باشد.

انجنیر یوسف پشتون رییس کمیته تدارکات و بازسازی غزنی به روز سه شنبه در اجلاس عمومی مشرانوجرگه گفت که به همین مناسبت مراسم بزرگ در شهر غزنی بر گزار می گردد:

"وزرای خارجه ممالک اسلامی دعوت شده اند، اولاً آنها یکجا شده پروگرام سالانه را آغاز می نمایند، جلسه بسیار طولانی نیست، فقط برای یک روز در ولایت غزنی است، مهمانان خارجی را که ما دعوت کردیم حدود سی تا چهل نفر هستند."

سازمان علمی و فرهنگی سازمان ملل متحد در سال ۲۰۰۷ میلادی فیصله نمود که ولایت غزنی را در سال ۲۰۱۳ میلادی به عنوان مرکز ثقافت اسلامی معرفی می کند.

پس از این اقدام مقام های افغان تعهد سپردند که منار ها و مناطق تاریخی شهر غزنی را بازسازی می کنند و این ولایت را آماده بر گزاری محفلی به همین مناسبت می سازند.

اما اکنون که چند ماه دیگر به بر گزاری این محفل باقی مانده وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان می گوید که بین پنجاه تا شصت درصد کار بازسازی این ولایت انجام شده است.

سید مخدوم رهین در اجلاس عمومی مشرانو جرگه گفت که اگر کار های بازسازی در غزنی سرعت بخشیده شود، تا شش ماه دیگر این ولایت آمادهء بر گزاری محفل نامگذاری مرکز ثقافت اسلامی خواهد شد:

"بدین صورت بنا های تاریخی آباد می شود، قسمت زیاد آن آباد شده و بقیه آن تا ماه میزان تمام می شود، جای ناامیدی نیست، تا کنون هم با توجه به هوای سرد غزنی و امنیت آن و مشکلات مالی کار پیش رفته است."

در این حال شماری از اعضای مشرانو جرگه کار کرد های حکومت به خصوص انجنیر یوسف پشتون و داکتر مخدوم رهین را در خصوص غزنی به شدت مورد انتقاد قرار دادند. این سناتوران حکومت را به بی توجهی در راستای بازسازی منار های غزنی محکوم کردند.

اما مقام های افغان می گویند که طی پنج سال گذشته ۵۰ ملیون دالر جهت بازسازی غزنی به مصرف رسیده است.

نبود امنیت در ولایت غزنی عمده ترین مانع بر سر راه برنامه های بازسازی این ولایت خوانده شده است.

### د ولسمشر کرزي وروستی ...

اندریس فوګ راسموسن وویل، دا ټرون په بشپړه توګه د افغانستان ملي حاکمیت ته درناوی لري، خو له افغان لوري هم دا تمه لري چې ومني موږ د ولسمشر کرزي د هېواد د پرمختګ لپاره خپله زیاته وینه تویه کړې او زیاتې پیسې مو لګولې دي.

رویترز خبري اژانس وایي، د افغانستان په روانه جګړه کې تر اوسه پورې شاوخوا درې زره نږدوال سرتیري وژل شوي او د ځینو د تخمین له مخې یوازې متحده ایالاتو په افغانستان کې سلګونه میلیارده ډالر مصرف کړي دي.

بل لورته بیا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي یان کوبیش ویلي، چې افغانستان دا مهال د امنیتي انتقال له یوې حساسې او پیچلې مرحلې څخه د تیریدو په حال کې دی.

نوموړي پرون په نیویارک کې خبریالانو ته وویل د افغانستان اکثره سیاسي ګوندونه، خلک او په خپله ولسمشر کرزی وایي چې متحده ایالات اوس هم د افغانستان ستراتیژیک شریک دی او په راتلونکې کې به هم وي:

"افغانستان غواړي او دا د زیاترو خلکو ګمان هم دی چې هېواد یې د مشرۍ رول ولري د خپل برخلیک ټاکونکی محترم ګڼل کیږي.

ځیني وختونه داسې خوزښتونه کیږي چې تل د اوس په شان همکارۍ لپاره ګټور نه وي.

ځیني پیښې هم ښایي داسې فضا جوړه کړي چې د همکارۍ په ګټه نه ده."

له میدان وردګ ولایت څخه د ځانګړو امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه د ولسمشر کرزي امر او افغان حکومت ته د باګرام زندان د بشپړ مسولیت د سپارلو غوښتنه هغه سترې مسلې دي چې یو څل بیا یې د کابل او واشنګټن ترمنځ اړیکې کړکیچنې کړي دي.

### ډنمارک او هسپانیا له افغانستانه ...

د پولیتیکین د مالوماتو له مخې ډنمارک وروسته له دې له افغانستانه د خپلو ځواکونو د ایستلو پرېکړه وکړه چې بریتانیا وپتیله چې خپل یو شمېر ځواکونه به ژر وباسي.

په پام کې ده چې د پرایس په نوم په هلمند کې د ډنمارکي پوځیانو کمپ ونړول شي. دا کمپ په هلمند ولایت کې دی.

په هسپانیا کې د دفاع وزارت چارواکو پرون وویل چې د افغانستان د بادغیس ولایت په مرکز قلعه نو کې پوځي ماموریت پای ته رسوي او خپل سرتېري به په هرات کې اصلي اډې ته ولېږي.

د هسپانیا د دفاع وزارت په وینا دا اقدام به له افغانستانه د هسپانیایي پوځیانو د وتلو نېټه رامخکې کړي.هسپانیا مخکې لا د بادغیس ولایت په مقر ولسوالۍ کې خپله اډه بنده کړې او له هغې څخه یې ۴۵ پوځیان خپل هیواد ته لېږدولي دي او نور هم انتظار دي چې هسپانیا ته ستانه شي.

له دې سره به په افغانستان کې هسپانیایي پوځیان یوازې په هرات ولایت پورې محدود شي او په پام کې ده چې له هرات څخه هم ټول هسپانیایي پوځیان په ۲۰۱۴ کال کې ووځي.

هسپانیا د ناټو په چوکاټ کې په افغانستان کې ۱۴۰۰ پوځیان لري. د افغان ماموریت له پیله تراوسه شاوخوا سل هسپانیایي پوځیان وژل شوي خو هسپانیا وایي چې اکثره عسکر یې په جګړه کې نه بلکې په هوایي پېښو کې وژل شوي دي.

### مقررات جدید درخصوص...

فیصلهء تازه شورای وزیران به گونهء جدی عملی خواهد شد.

رفیع فردوس سخنگوی ادارهء امور افغانستان به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت که اگر کسی از این امر سر باز زند، تحت پیگرد قانونی قرار خواهد گرفت:

"به اساس مصوبهء دیروز شورای وزیران وزارت داخله و ریاست امنیت ملی موظف اند تا هدایات شورای وزیران را در تمام ولایات تطبیق نمایند.

فیصلهء دیروز نکات جدی است که رییس جمهور افغانستان با تاکید روی آن بحث کرده است. اگر کدام تخلفی در این زمینه صورت گیرد، چی از سوی وزیر یا وکیل، حتمی تحت پیگرد قانونی قرار می گیرد."

هم اکنون به هنگام گشت و گذار بسیاری از مقام های بلند رتبهء دولتی به شمول وزیران و اعضای شورای ملی در شهر ها به خصوص شهر کابل، سرک ها مسدود می گردند و این مساله مردم را با مشکلات روبرو ساخته است.

همچنان دیده شده که این افراد از موتر های شیشه سیاه استفاده کرده و تعداد زیاد از محافظین با سلاح های سنگین آنان را همراهی می کنند.

در این حال مردم از این فیصلهء شورای وزیران افغانستان استقبال می کنند اما برخی از آنان باور ندارند که این فیصله جنبهء عملی را به خود بگیرد.

در گذشته نیز چنین فیصله های از سوی حکومت افغانستان صادر شده، اما انتقاد های وجود دارند که در قسمت عملی کردن این فیصله ها توجهء لازم صورت نگرفته است.

به گفتهء مردم، بسیاری از مقام های دولتی خود را فوق قانون دانسته و به چنین فیصله ها اعتنا ندارند.

اما دیده شود با آغاز سال نو شمسی تصمیم تازهء حکومت افغانستان تا چی حد عملی می گردد.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوي مطالب نه مستردیږي · یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com